**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

داکتر همیش نیکسون، د نړیوال بانک د سهیلی حوزی د حکومت داری او د خدمتونو د عرضی د برخی کارپوه

داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه

*کابل- د آګست د میاشتی څلورمه نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما:** زما نوم نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه یم. خوښ یاستو چی زموږ سره میلمه دی ښاغلی همیش نیکسون د نړیوال بانک د سهیلی حوزی د حکومت داری او خدمتونو د عرضی کارپوه. دوی به تاسو ته د نړیوال بانک د یو ریپوټ په اړه معلومات درکړی چی پرون خپور شوي دی خو مخکی له هغی غواړم یو څو لنډ ریپوټونه تاسوته د ملګرو ملتونو د کورنی څخه وړاندی کړم.

**افغان ځوانان د ځوانانو نړیوال ورځ لمانځي تر څو پر خپلو لومړیتوبونو بحث وکړي**

د ځوانانو نړیوال ورځ به سبا د کابل په انترکانینتال هوټل کی د سهار د نهه بجو څخه تر مازیګر د پنځو بجو پوری ولمانځل شی.
د دی ورځی اساسی موخه دا ده چی تیرکال د ځوانانو د پریکړه لیک څخه د پیل د ټکی په توګه د کاری ګروپونو د جوړولو لپاره ګټه پورته شی. دا کاری ګروپونه به پر دی بحث وګړي چی په څه توګه د ځوانانو د مسلی په اړه پوهاوی لوړ کړی او د افغانستان د ملی پرمختیایی ستراتیژی د پلی کولو لپاره د ځوانانو سره مشوره وشئ.
دا ګروپونه به په دی هم کار وکړی تر څو د حکومت او ځوانانو تر منځ مرسته او همکاری غښتلی کړی او په پایله کی یی داوطلبی اتحادیي د ځوانانو له خوا جوړي شي.

د لا ډیرو معلوماتو لپاره تاسو کولای شی چی یوه مطبوعاتی اعلامیه په پشتو، دری او انګلیسی د خواته میز څخه تر لاسه کړي.

**د ملګرو ملتونو د ماین پاکی د پروګرام یو ورکشاپ د سیمه ایز قربانیانو د مرستی لپاره**

حکومتی چارواکی، د مدنی ټولنی استازی او د انجوګانو استازی سره په کندز کی یو ځای کیږي تر څو په هغه پلان باندی کار وکړی چی د افغانستان د معیوبیت د پلان عمل موخی ملاتړي شی او هغوی تر لاسه شي.

یو دوه ورځینی ورکشاپ به سبا د ؛ سیمه ایزی مرستی د قربانیانو لپاره؛ به په کندز کی جوړ شی. د دی ورکشاپ مالی او تخنیکی ملاتړ د ملګرو ملتونو د ماین پاکی د پروګرام له خوا تر سره کیږي.

د دی ورکشاپ کوربه توب د کار، ټولنیزي چاري، شهدا او معلولین د وزارت له خوا ترسره کیږی. ګډون کوونکي ۵۵ تنه دولتی چارواکی، د مدنی ټولنی او انجوګانو استازی د شمال شرق د څلورو ولایتونو څخه دي.

د لا ډیرو معلوماتو لپاره د دی ورکشاپ په اړه زموږ د همکار ښاغلی شمس الدین حامدی سره په ۰۷۹۹۱۲۸۲۱۷ شمیره باندی اړیکه ټینګه کړي.

## داکتر همیش نیکسون، د نړیوال بانک د سهیلی حوزی د حکومت داری او د خدمتونو د عرضی د برخی کارپوه

سهار مو په خیر، ډیره مننه د یوناما څخه چی موږ ته یی د دی کنفرانس موقع برابره کړه. خوښ یم د دی څخه چی نن سهار د تاسو سره یم. وړمه ورځ نړیوال بانک یو ریپوټ خپور کړ چی د عامه مالی مسایلو په اړه په ولایتی او محلی کچه یی په افغانستان معلومات درلودل. په دی محفل کی چی د دی ریپوټ د لومړی ځل خپریدو په مناسبت جوړ شوی وو د یوناما، حکومتی چارواکي او دونرانو په کی ګډون درلود. خوښ یم چی تاسو سره د دی ریپوټ یو څو ټکي شریک کړم او وروسته د هغه به ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایم.
د ریپوټ خلاصه په انګلیسی او دری به تاسو ته سره د یو مطبوعاتی اعلامیی درکړل شئ.

څه رنګه چی بی له شکه تاسو ټول خبریاست چی په تیرو څو کلو کی د دی پر اهمیت ډیر ټینګار شوي دی او ورته اهمیت ورکړل شوی دی چی د حکومت داری سیستم او د خدمتونو عرضه باید په ولایتی او ځایی کچه باندی پیاوړي شئ. د افغانستان ملی پرمختیایی استراتیژی د ښه حکومتداری په اړه په ولایتی کچه باندی بحث کوی کو چیری غواړی چی د دی استراتیژی دری اهمی موخي لکه امنیت، حکومت داری او پرمختیا تر لاسه شی. د محلی ارګانونو د خپلواک ریاست جوړښت تیرکال دی مسلی ته نوي زیرنه ښایی.

ډیري نور اصلاحات او فعالیتونه د دونرانو او حکومت د وزارتونو تر منځ شته چی د هغوي موخه د ولایتی حکومت داری لا ډیر ښه والی دي. موږ په نړیوال بانک کی په خوښي سره د دی کار ملاتړ کوو او غواړو چی د دی زیار او کوښښ سره په ګډه د یوناما، نړیوالی ټولنی او نورو همکارانو سره په مخ ولاړ شو.

حکومتداری په ولایتی کچه باندی یوه مهمه مسله ده ځکه چی یو ښه فعاله ولایتی سیستم څخه تمه دا ده چی د ځایی خلکو نظریات د پرمختیا او خدماتی پلانونو په اړه واوریدل شئ، او د خدمتونه باید د دوی اړتیاو ته ځواب ووایئ او دوي په اغیزمنه توګه او برابره توګه هغوي ته ورسول شئ. د ولایتی حکومتداری سیستم یوه اهمه برخه د هغی مالی سیستم دی – دا په دی مانا چی عواید، بودجه او مصارف د اداری په بیلابیلو کچو کی په څه ډول په هیواد کی ترسره کیږی.

نوي ریپوټ چی پرون خپور شو په هغه څیړنو ولاړ دی چی نړیوال بانک تیرکال د ولایتی ادارو په اړه په شمول د ولایتی شوراګانو، ولایتی پرمختیایی کمیټو او دا ډول نهادونو په اړه ترسره کړي وي. نوي ریپوټ هغه مسلې څیړي جی مالی سیستم او مالی خدمتونه په ولایتی کچه ورسره مخامخ دی.

غواړم په لنډ ډول تاسو ته توضیحات درکړم چی څیړنه په څه ډول ترسره شوي وه او دهغی تر ټولو مهمی لاس ته راوړني څه دي. په اساسی ډول موږ د ته نظر واچوو چی زیرمی یا منابع په ولایتی کچه په افغانستان کی په څه ډول ویشل کیږی په دی مانا چی زیرمی د اساسی بودجی او بهرنی بودجی پر بنسټ په څه ډول ویشل کیږي. یقیناً چی نوری لاري هم شته چی زیرمي افغانستان ته راځي خو موږ د حکومت د دوه بودجو په اړه چی اساسی او بهرنی بودجي دی د دوه اړخه تر څیړنی لاندی نیولي دی.

موږ د سیستم دوه بیلابیلو اړخونو ته نظر واچوو. یو دا چی سرچینی د اداره په کچه مصرفیږي یعنی څومره د مرکز په کچه، د ولایت په کچه ، د ښاروالیو په کچه او بلاخره په ځایی کچه باندی.
لومړی غواړم چی د سرچینو د عمودی ویشلو په اړه خبری وکړم، یعنی چیری چی سرچینی په حکومتی کچه باندی مصرفیږي.

هغه څه چی موږ ترسره کړي دی د ملی بودجی د ریپوټ ورکوني او یا د کومی بلی څیړنـي څخه جلا دی. په ساده توګه موږ ده ته کتلي دی چی پیسی څه ته ورکول کیږی او په کوم ځآی کی په مرکز کی، په ولایت کی او یا د مالیی د وزارت سره ثبت کیږي. موږ ده ته هم نظر اچولي دی چی پیسی د څه لپاره استفاده کیږي. نو موږ داسی لاره باندی کار وکړ چی د پیسو د مصرف لاري پیدا کړو نه د هغه د اختصاص ورکول برخه، دا زه تاسو ته به لږ ډیر روښانه کړم.

په افغانستان کی د بودجی د جوړولو سیستم او مصارف په مرکزی توګه تر سره کیږي نو ځکه دیری مصارف په مرکز کی ثبت کیږي. یواځینی مصرف چی په ولایتونو کی ثبتیږی هغه د معاشاتو مصرف دي ولی ډیری نور شیان په مرکز کی ثبت کیږي. د بیلګی په ډول کو چیری د روغتیا وزارت دواګانی واخلی چی د ولایتونو په کلینیکونو کی مصرف شي نو د هغی مصرف بیا هم په مرکز کی ثبت کیږي.

په ساده ډول باندی موږ هغه معیار ته نظر واچوو چی په کی دا تعین کیږي کومی مصرف په ولایتی کچه باندی د ادارو په ګټه مصرف شوي دی او کوم یی د وګړو لپاره، نه یوازی د ته چی پیسی په کوم ځآی کی مصرف شوي او یا ثبت شوي دي. د دی کار د کولو سره موږ ته په زړه پوری پایلی لاس ته راغلي په حقیقت کی ۶۸ سلینه د عامه مصرفونو، هغه پیسی چی په اساسی بودجه او بهرنی بودجه کی دي، د ولایتی موخو لپاره دي. دا دهغه فعالیتونو او خدمتونو لپاره دي چی په ولایتی کچه، ځایی او ښاروالیانو په کچه باید مصرف شئ، شاوخوا ۶۸ سلینه.

خو د عامه مصارفو پیسی ۷۶ سلینه په مرکزی ډول باندی ثبت کیږی. دا په دی مانا دی چی په کوم ځای کی چی پیسی مصرف کیږی او په کوم ځای کی د هغه لپاره تصمیم نیول کیږی خورا ډیر توپیر موجود دي.
موږ دی ته د مالی سیستم عمودی نابرابری وایو چی دا پخپله کیدای شی د عامه خدماتو د اغیزمنتوب لپاره په ټولو کچو کی یو غنډ جوړ شي.

د دی رپوټ یوه بله پایله دا ده چی هغه لاری چاری باید ولوټول شی چی په ملی بودجه کی د ولایت په کچه باندی نظریات موجود وي چی وزارتونه سره د عامه خدماتو په وړاندی بودجه کی په ولایتی کچه باندی مرسته وشئ. دا په دی مانا نه ده چی د ولایتونو لپاره جلا بودجه چمتو شئ. دا په دی مانا ده چی د وزارتونو ریاستونه په ولایتی کچه باندی لکه د روغتیا او تعلیم او تربیه ریاستونه د ولایت لپاره په بودجه کی ښه ونډه ولرئ.

لومړنی چارت او د رپوټ د خلاصی برخه د دی مسایلو په اړه معلومات لري. کو چیری د هغه په اړه باندی پوښتني وي نو کولای شم چی ځواب ووایم.
دوهمه موندنه لږ څه ساده ده او په آسانی سره توضیح کیدای شی.
موږ دا هم وموندله چی د سرچینو په ویشلو کی د هیواد په بیلابیلو برخو کی خورا غټ توپیر شته.

دا په دی مانا دی چی په بودجه کی ولایتونو د خدماتو لپاره د بودجه مختلفی شمیری د فی وګړی په اساس ترلاسه کوي. بیا هم غواړم ووایم چی دا موندني د اساسی او بهرنی بودجی پراساس دی. ډیری نوری لاري هم شته چی سرچینی راځی او دا کار ګرانوي چی په څه ډول باندی سرچینی په کوم ځای کی مصرف کیږي.

دا مصارف د مصرفونو د ډول پر اساس هم توپیر موندلی شی. د معاشونو له نظره توپیر شته او یا داسی ووایو چی د بودجی بیلابیل اړخونه یو بل سره سمون نه لري. د بیلګی په ډول ښوونکو ته په یو ځای کی ډیر معاش رسیږی خو د قلم او پنسل لپاره کافی او برابره پیسی نه رسیږي.

د دی لپاره ډیر لاملونه شته خو یو یی په ساده توګه به دا وی چی د ویشلو د پلان یو میکانیزم په ولایتونو کی نشته او ډیری لاري چاري شته چی بغیر له کوم بنسټیز بدلون څخه په فعلی بودجه جوربښت کی کولای شو چی دا حالت د ښه والی خوا ته وخوزوو.

د سرچینو برابره ویش د افغانستان د حکومت یوه روښانه موخه ده چی په واضحه توګه د محلی ارګانونو د خپلواک ریاست په پالیسی کی دا شامل دي او نړیوال بانک د دی موخي څخه ملاتړ کوي.

آخری موندنه چی ما غوښتله تاسوسره په لنډ ډول شریکه کړم. رپوټ د ته هم نظر اچوی چی په څه ډول سرچیني ښاروالیانو ته برابري شئ. څه چی موږ موندلی دی هغه دی چی ښاروالیاني د خپل عوایدو او مصارف دنده په غاړه لري. دوی وګړو ته د خدمتونو د رسولو دنده په ښاری او کلیوالو سیمه کی لري. خو د هغوی وړتیاوي د عوایدو او مصارفو په برخه کی د یوځای څخه تر بل ځایه پوری توپیر لری. په یو ځای کی ډیر او په بل کی لږ دي.

په داسی حال کی چی داسی سیستم نشته چی د مرکزی دولت څخه ښاروالیانو ته پیسی انتقال شئ ترڅو هغه بودجوی تشتیاوي چی هغوی لري پری ډکی شی. خو په استثنایی ډول د کابل ښاروالی دا پیسی ترلاسه کوي.

په اټکلی ډول دری لاري شته چی کولای شی د مالی اصلاحاتو په برخه کی د ولایاتو لپاره مرسته وکړي او ښي پایلي ولرئ او نړیوال بانک چمتو دی چی په دی برخه کی د افغانستان د حکومت سره مرسته وکړي.

لومړی دا چی ملی بودجه په څه ډول جوړیږي او د ولایاتو یا اداری برخو بیلابیلی کچي په کی خپل نظر ورکړي. البته دا په فعلی اداری واحد او مرکزی خزانی په جوربښت کی دي. دوهم دا ده چی داسی یو میکانیزم را منځ ته شئ چی د مصارفو یا خدماتو څخه د وګړو لپاره د هیواد په بیلابیلو برخو کی ډاډ ترلاسه شئ. او د ښاروالیانو لپاره یو اغیزمن مالی چوکاټ رامنځ ته شئ.

موږ په نړیوال بانک چمتو یو چی د افغانستان د حکومت سره د دی ننګونو په مخامختیا کی ملاتړ وکړو تر څو د فعلی اصلاحاتو څخه چی د مالیی په وزارت کی روانی ډی ملاتړ وشئ او د ولایتی او ځایی حکومت داری د پالیسی څخه چی همغږی یی د محلی ارګانونو د خپلواک ریاست له خوا کیږي، بشپړتیایی ملاتړ ترسره شئ.

## پوښتنو او ځوابونه برخه:

**راديو آزادی:** لکه څرنګه چی تاسو وویل دا یو تخنیکی رپوټ دی او زه نه پوهیږم چی څنګه رپوټ ورکړم او ددی کنفرانس څخه څه تول کړم. اما په عمومی ډول څه چی وپوهیدم هغه دادی چی تاسو د ولایتونو تر منځ د مصارفو نامساوات باندی وغږیدی. او تاسو وویل کیدای شی دا د میکانیزم د نشتوالی له کبله وی. له بل طرفه تاسو د حکومتداری متخصص یاستی. آیا تاسو فکر نکوی چی په ځنی ولایاتو کښی د ښه حکومتداری له کبله چارواکو وکولای شول چی ډیرعایدات را غونډ او د خپل اړتیاوو په مطابق یی مصرف کړی. او په ځنی نورو ولایتونو کښی د کمزوری حکومتداری له کبله چارواکو ونشول کولای د خپلو اړتیاوو په مطابق کافی بودیجه راجذبه کړی؟ ستاسو نظر پدی هکله څه دی؟

**نړیوال بانک**: ډیری ستونزی شته. یو د هغو څخه دادی چی د سرچینو پیژندلو با وجود چی ورڅخه ولایتونو ته پیسی ځی، نشوکولای د منابعو صحیح ویش باندی وپوهیږو. دا ځکه چی ډیری منابع په ملی بودیجه کښی شتون لری، خو نوری منابع په خارجی بودیجه کښی شته او حتی ځنی منابع افغانستان او ځنی ځانګړی ولایتونو ته ورکول کیږی چی مالیی وزارت ته راپور نه ورکول کیږی.

دا یو دلیل دی چی مونږ په نړیوال بانک کښی پدی باور یاستو او مرستندویه ملکونو ته مهمه ده چی منابع د ملی پروګرام او ملی بودیجی له لاری او که نشی کولای لږ تر لږه مالیی وزارت ته په دقیق ډول د بهرنی بودیجی له لاری راپور ورکړی.
اما څه چی مونږ دلته وکړهغه دادی چی پیسی د واقعی بودیجی څخه واخلو د مثال په توګه پیسی چی د ښوونکو د تنخواګانو لپاره اوپه معارف کښی دورانی مصارف لپاره لګول شوی د یو ولایت په وګړو باندی وویشو. دا ډیر سطحی اندازه کول دی اما څه چی مونږ لیدلی شو هغه دادی چی په ځنی ولایاتو کښی که د ټولو دولتی تنخواګانواندازه د هغه ولایت په وګړو وویشو په هر وګړی په سر ۲۰۰ افغانی رسیږی او په ځنی ولایتونو کښی د هر وګړی په سر ۲۰۰۰ افغانی رسیږی. ځنی وخت دا توپیر شپږ او یا لس ځله وی. البته د نفوس دقیق معلوماتو نه شتون هم یو ستونزه ده. اما کوم ټکی چی مونږ پری دلته غږیږو هغه د یو سیستم نشتوالی دی چی په منطقی ډول څرنګه منابع تخصیص کړو. نو داسی لاری چاری شته چی څرنګه منابع په مساوی او شفاف ډول په بودیجه کښی ځای په ځای شی او دا هغه څه دی چی مونږ یی په اجرا کولو کښی علاقه لرو.

**افغانستان ټایمز**: تاسو وویل چی ځینی ولایتونه لږه بودیجه تر لاسه کوی او یا هیڅ بودیجه او منابع نلری. کولای شی چی د هغو نومونه واخلی؟ څرنګه چی تاسو وویل کافی مصارف نشته، یا په ملی او محلی سطحه کی توپیر شته. آیا تاسو فکر نه کوی چی په ملی او محلی سطحه کی دا توپیر به د فساد لپاره زمینه برابره کړی؟

**نړیوال بانک:** د رپوټ خلاصه په هر ولایت کښی د هر وګړی په سر د مصارفو ویش راښایی، اوڅه چی مونږ ګورو حیرانونکی دی. یواځی هغه پیسی چی په اصلی بودیجه کښی دی، په دورانی مصارفوکښی لګول کیږی. پدی معنی چی د دولتی مامورینو تنخواګانی، عملیات او د دولتی تسهیلاتو په ساتنه کښی.
څه چی مونږ موندلی هغه دادی چی کابل په حقیقت کښی د هر وګړی په سر تر ټولو کم دورانی مصارف تر لاسه کوی. ښایی ددی علت هم په تیرو کلنوکښی د کابل د وګړو زیاتوالی وی. یواځی په کابل کښی د ملکی مامورینو شمیرد نورو ولایتونوپه پرتله کم دی.
کله چی مونږ د پرمختیایی مصارفو ته راځو، دلته هم د ولایتونو ترمنځ لوی توپیرشته. مکمل رپوټ چه تاسو ټولو ته به وویشل شی پدی هکله تفصیلات لری. یو مهم ټکی چی باید په یاد مو وی هغه دادی چی د پرمختیایی بودیجی د لګولو اندازه په بودیجی کښی ښودل شوی ده. اکثره ناامنه ولایتونه د پرمختیایی بودیجی لږه اندازه لګوی او نور ولایتونه د هغو پیسو څخه چی بودیجی له لیاری ترلاسه کوی د پرمختیایی بودیجی زیاته برخه لګوی. ناامنه ولایتونو ته کیدای شی د نورو منابعو څخه پیسی راشی چی په بهرنی بودیجی کښی په دقیق ډول نه ثپت کیږی. دا رپوټ مونږ ته دا امکان په لاس راکوی چی یو ولایت تر ټولو زیات او بل ولایت تر ټولو کمی پیسی ترلاسه کوی. ددی توپیر یو علت کیدای شی سیاسی وی خو نور علتونه هم کیدای شی لکه د بودیجی په سیستم کښی چی نړیوال بانک کولای شی پدی برخه باندی پاملرنه وکړی.

**صبح به خیر افغانستان:** تاسو چې هغه څه د ښاروالیانو په اړه وویل ما ته واضح نشو، کولای شی چی لږ ډیر معلومات راکړئ؟
**نړیوال بانک:** په افغانستان کی یو ښکاره قانون شته چی د هغه پر بنسټ ښاروالیاني د یو لړ خدمتونو لپاره دنده لری لکه د کثافات پاکول، د سړکونو جوړول او یا نور خدمتونه. خو دا چی ښاروالیاني د دی دنده په غاړه لری په دی مانا نه دی چی سرچینی هم دوي برابری کړئ. د دی رپوټ په اساس باندی هغه عواید چی ښاروالیاني د مالیاتو له لاري لاس ته راوړي په ټول هیواد کی دوی کولای شي چی پنځوس په سلو کی خپل اړتیاوي برابر کړي. نو په دی مانا چی دلته یوه تشتیا شته چی دا باید د فواید عامه د وزارت له خوا او یک د ښاری پرمختیا د وزارت له خو ډکه شئ او یا هیڅ خدمتونه خلکو ته برابرنشئ. هغه څه ته چی موږ غواړو اشاره وکړو هغه دا ده چی ښاروالیانو ته یا د حکومت له خوا پیسي انتقال شئ او یا دا چی په ځني هیوادونو کی د برابرتیا لپاره د یو ښاروالی څخه بلی ته پیسی انتقال کیږي. خو په افغانستان کی ښاروالی صرف هغه پیسی مصرف کولای شی چی په خپله یی پیدا کړي یی. یوه استثنا شته چی کابل ښاروالی د مرکزی حکومت له خوا پیسی ترلاسه کوي.

**آیرنا:** څرنګه چی تاسو وویل چی په افغانستان کی سر شمیرنه ترسره شوي نه ده، نو د بودجی حساب د نفوس پر اساس څرنګه ترسره کیږئ؟

**نړیوال بانک:** دا یو د هغه ستونزو څخه دی چی موږ ورته اشاره وکړه. په ډیرو برخو کی د سرچینو برابرول او ځانګړی کول اساسا د هغه څه پر بنسټ کیږي چی پخوا ترسره کیدل او شاید د څلور فیصد په اضافه کولو سره ، دا د کوم واضح فکتور په اساس نه ترسره کیږي. د دی کار له ښه والی لپاره موږ د دوه لارو وړاندیز کوو. یو دا دی کو چیری ولایتی ریاستونه په بودجه خپل نظریات ورکړي بودجه کولای شی د هغوی د اړتیاو ښه ښکارندوي اوسي.
د مالیی په وزارت کی یو لړ اصلاحات روان دي او موږ هیله کوو چی د هغه پر بنسټ کارته دوام ورکړو. دوهمه لاره د ښه والی لپاره دا دی چی باید د بودجی یو نورم موجود وی چی په څه ډول باندی پیسی ویشل کیږي. یو مثال کیدای شی دا وی چی د زده کوونکو د شمیر په اساس د تعلیم و تربیه لپاره تنخواګانی برابری شئ. کو چیری تاسو داسی یو فرمول استفاده کړي چی د زده کوونکو د شمیر په اساس دي نو دا به شفافیت ډیر کړی او د فساد څخه به مخنیوی وکړي. ولی چی د پارلمان د بودجه کمیسیون کولای شی په آسانتیا سره د زده کوونکو د شمیر په اساس تنخوا ګانی منظوری کړي. دا ښکاره ده کو چیری موږ کره شمیر د ولایاتو په اړه د نفوس په برخه کی ولرو نو کولای شو چی د هر ولایت اړتیاوي په آسانه توګه ځانګړي کړو.

**ملی تلویزیون:** د ۲۰۰۷ کال په اوږدو کښی څومره پیسی د نړیوال بانک له خو په افغانستان کښی مصرف شوی دي؟

**نړیوال بانک:** زه مکمل شمیره نلرم چی څومره پیسي د نړیوال بانک له خوا په افغانستان کښی مصرف شوی. مونږ خپل پروګرامونه لرو، مونږ د نورو مرسته کوونکو سرچینی د افغانستان د بیا ودانولو پانګه ( چی دا دمختلفو مرسته کوونکو پیسی دی چی د افغانستان بودیجی ته ورکول کیږی.دا هغه بودیجه ده چی د مناسبی ساتنی په پام کښی نیولو سره مصرف یی ترسره کیږي.
عبدالروف ضیا زمونږ د مطبوعاتو مسول به د دی کنفرانس نه ورسته تاسوته افغانستان ته د نړیوال بانک د مرستو په هکله لا ډیر معلومات درکړی. زه په صرف پدی خاصه برخه کښی کارکوم او زه د نورو برخو په هکله معلومات نلرم.

**پژواک:** زه غواړم د هغه پیسو په هکله پوه شم چی ثبت یی نه تر سره کیږي او دغه پیسی چیری په مصرف رسیدلی، په کومو ساحو کی او څومره؟

**نړیوال بانک:** لنډ ځواب به نه وي. ځکه چی دا په یاداښت کښی ندی نیول شوی اوډیر مرسته کوونکی اوس پدی ښه پوه شوی چه خپل پروګرامونه ثبت کړي که چیری مرسته کوونکی د دی توان ونه لری چه دافغانستان د بودیجی او یا د افغانستان د بیا ودانولو بودیجی د میکانیزم څخه کار واخلی. په هر حال مونږ او مرسته کوونکی د ځنو لګښتونو د ثبت په اړه له ډیرو ستونزه سره مخ یوو او مرسته کوونکي خپل جلا مالی کال لری، اویا ځنی مصارف دوه ځله شمیرل کیږي. زه فکرکوم تر اوسه هم لا ډیره اوږده لاره په مخ کی لرو چی

د بودیجی مصرف شوی برخه د مالیی د وزارت په بهرنی بودیجی کښی د ثبت کولو پروسه لا هم ښه کړو. مګر د نړیوال بانک دریز افغان دولت ته په مختلفو لارو مرسته کول دی تر څو د حکومتی سیستم ملاتړ وکړو. د دولت د ظرفیت لوړول او د فساد کمول په سیستم کی او موږ کوښښ کوو چی ټول خپل ملګري او نړیواله ټولنه دی ته وهڅوو چی په همدی لارښوونه کاروکړئ.

**ویاند:** تاسو ټولو څخه ډیره مننه.

---